ژباړن: سراج الحق ببرک زی ځدراڼ ۲۰۱۲/۰۱/۱۷

# د جګړېزوجرايمو رپوټونو يوه امنيتي کاپي په برکسل کې شته

دفرانکفورته الګمينه څيتونګ ويپانه
ليکواله: فدريکه بوګه

دافغانستان د بشري حقونو دخپلواک کميسون له دندي ګوښه کړل شوي کميشنر د نادر نادري لخوا يو ډير پټ او ځانګړي رپوټ د جنګي جرايمو په هکله چمتو شوي دی. دی مجبور دی د دغي رپوټ د سانسور يدلو مخه ونيسي.
نادر نادري هيڅ يي خپل تصادف ته پريښي نه دي. که ده ته څه ورپيښ هم شي، هغه څه چې افغانستان کې په اساني سره شوني دي او يا که د ده ځای ناستي پريکړه وکړي، د دغي چاوديدونکې رپوټ په ځينو برخو کې لاسوهنه کړي، په پای کې به بلاخره هر څه له جزياتو سره روښنايي ته راوستل شي. له همدي کبله نادري د جنګي جرايمو او ډليزو وژنواسناد يا لاسوندنو يوه کاپي په برکسل کې د خپل سيال په يودفترکې ايښودلي ده.

د دوی نومونه نه شم کولي چې واخلم، ځکه زه نه غواړم دوی له ستونزو سره مخامخ کړم. نادري د هيواد دبشري حقونو يو تکړه کارپوه دی، ده له دغي دندي څخه ډيره ګټه پورته کړي هم ده، دی داسي وايي. کله چې ده په تيره اوونۍ کې برلين ته سفر درلود، تر څو دی په برلين کې داسپين انستيتيوت کانفرانس کې برخه واخلي او خبري وکړي. دی تر دې مهاله په رسمي ډول دافغانستان د بشري حقونو دخپلواک کميسيون د کميشنر په نده ګمارل شوي وو. نادري سم نه پوهيږي، چې دی د خپلي کميشنري دندي څخه شړل شوي دی او که نه، دی وايي تر اوسه ده ته په رسمي ډول خبر ورکړل شوي نه دی. د کرسميس څخه مخکې ولسمشر کرزي اعلان وکړو، چې د نادري کاري موده پای ته رسيدلي ده او نوره نه اوږديږي. دوه ورځې مخکې دهيواد ولسمشر د خپلو دوو مرستيالانو او نږدي مشاورينو سره په يوه خوله شوي وو، چې دغه مزاهم ګوتڼيونکي سړی له خپلي دندي وشړي. د ده په برخه کې ډير زور وازميل شول. سيمه ايزو رسنيو وليکل، چې نادري ښځګه د يوسړی له خوا په کلاشينکووف وګواښل شو.

### دسولې او پخلاينې خبرو اترو سياست په وړاندې ملي ضد ټلواله

له دندي څخه د نادري ګوښه کيدو خبر په ناڅاپه توګه رانه غي، نادري له کلونوکلونو څخه د جګړېزو جرايمو، ډليزو وژنو او د بشري حقونو څخه سرغړونو په ډاکومنټو يا لاسوندنو باندي کار کوي، افغانستان کې دغه جنګې جرايم د ۱۹۷۸ څخه تر ۲۰۰۱ کالونو کې تر سره شوي دي. داسي انګيرل کيده چې د ډسمبر په مياشت کې د دغي رپوټ پايلي بايد رسمآخپري شوي وي.
له سياسي پلوه دغه رپوټ خورامهم او نندريز ځکه دی، چې په رپوټ کې د حکومت ګڼ شمير لوړپوړي چارواکو نومونه د قاتلينو او مجريمينو په نامه ياد شوي دي. د ساري په ډول د ولسمشر مرستيال محمد قسيم فهيم، دی د ملګروملتونو په يو رپوټ کې چې تر اوسه خپور شوي نه دی، دی دکابل په ډليزو وژنو او جنګې جرايمو باندې تورن دی. دا تصادفي خبره نه ده ، د نادري ځای ناستي په اړه د قسيم فهم د نږدي ملګري په راوستو باندې خبري کيږي.
عبدالکريم خليلي د هيواد ولسمشر دوهم مرستيال هم په نويمو کالونو کې په توکميزو وژنو او جګړېزو جرايمو باندي متهم دی. د ملي اوردو درستيزوال رشيد دستم په ۲۰۰۱ کال کې د طالبانو په جنګې اسيرانو باندي ډليزي وژنې او جګړيز جرايم ترسره کړي دي. زه هيله من يم، چې دغه رپوټ زما ورستي چار وي، زه پوهيږم، چې د رپوټ د خپريدو څخه ورسته ، زه د کميسيون غړي نشم پاتي کيدلي. نادري وايي.
دا کومه نوي خبر ه نه ده، چې دغه کسان د کورنيو جګړو پرمهال په جنګې جرايمواو د بشري حقونو د سرغړونو باندې تورن دي. دغه تورنونه يا اتهامونه په يو ناسم وخت کې يوځل بيا رابرسيره کيږي. دغه کسان لکه فهم يا دوستم چې ځانونه په ديره مينه سره د لږکيو توکمونو مشران معرفي کوي. دوی اوس په يوه سياسي فتنه جوړوونکې دسيسه لاس پوري کړي دی. دوی دطالبانو سره د سوليز حل او د پخلاينې خبرواتروله و جهي په خلکو کې ويره خپروي. تر څو چې دوی خپل ځانونه دکرزي حکومت په ځای ديوالترنتيف په ښير وړاندې کړي. په دغه ډله کې د دوستم سره د شمالي ټلوالي دوه نور مشران د برلين فتنه جوړونکې کنفرانس ته ورغلي وو. د برلين کنفرانس ته د کنفرانس غړي نادري اجازه لرله، چې د جګړمارو او تورنو مشرانو سره په هوټل کې د ګهيځ چاي وڅښي. د شمالي ټلوالي مشران د دريو جمهوري غوښتونکې امريکايي سناتورانو په بلنه راغوښتل شوي وو. دغي ناستي کابل او واشنګټن ته ډيري اندينښني او زړه بدګې رامنځته کړي دی. ځکه دغه ناسته د کرزي د حکومت د سولې او پخلاينې سياست په وړاندي يوه ناسته وه. دوستم او د ده ملګري تور لګوي، چې لږکې توکمونه په انذوا کې ساتل کيږي.


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

## دمرمي ضد موټر او نورو امنيتي امتيازاتو پرته

د توکمي لاملونو له امله د طالبانو سره دسولې او پخلاينې خبري اترې څخه په شا کيدل، دغه لار به دغه هيواد سره هيڅ کومه مرسته ونه کړي. نادري د داسي يو سياست په وړاندې ولاړ دی.

نادري وايي، که خلک وايي، چې موږ له طالبانو سره سوله نه غواړو، ځکه چې طالبانو په موږ ظلم کړي دی. دغه رپوټ به دوی ته په واضع ډول ثابت کړي، چې د دوی د ډلو غړو همداسي جنګې جرايم په نور باندې ترسره کړي دي. د هغې ټولنې څخه چې طالبان را پاځيدلي دي، دوی هم ډير ظلمونه او تاوترخوالي ګاللي دي.

په افغانستان کې دغه نورمال او جوتې خبرې د بشر د حقونو فعالين د يو جدي ګواښ سره مخامخ کولي شي. په ۲۰۰۷ کال کې د امريکا د بشري حقونو سازمان هم همداسي يو رپوټ خپور کړي وو. په دغه رپوټ کې د مجاهدينو مشرانو څخه نوم اخيستل شوي وو، د مجاهدينو مشرانو د افغان دبشر د حقونوفعال غړي ته ډير بد رد وويل: ماته د حکومت، د ملګروملتو او د ناټو له خوا مالومات راکړل شول، چې زما نوم د جنګسالارنو، توپکمارو د وژلوپه لست کې دی. نادري له خپلي کورني سره دري ورځې د ملګروملتو په يو پټځاي کې پټ وو. داځل دی بايد د مرمي ضد موټر، د امنيتي ساتونکواو وسايلو څخه پرته ژوند وکړي. دغه امتيازات د بشري حقونود کميسيون له دندي ګوښه کيدلو څخه ورسته نور نشته.

## ډيري بدي خاطري

په کابل کې دلويديځ سفارتونو، سفيرانو د بشر دحقونو کارپوه اوفعال هڅې او د خونړي تور تاريخ په اړه دمالومات په راټولو کې زړه نا زړه مرسته کوله. دځينو لويديځوالو ډيپلوماتانو په اند، ددغي رپوټ د خپرولو سم وخت نه دي. ځکه اوس له طالبانو سره دسولې خبرو اترو په بهير کې پرمختګ شوي دی.

نادري بيا په بل اند دی، دی وايي، چې همداوس او په همدي چوکاټ کې دغه رپوټ د سولې او ملي پخلاينې بهير لانوره کړندي کولي شي، دغه رپوټ خلکوته ښيي، چې جنګې جرايم او پر خلکو ظلمونه په يو توکم او نه هم په يوه سيمه پوري اړه لري.

تراوسه دا مالومه نه ده، چې دا رپوټ به کله او څنګه، په کابل اويا برکسل کې خپور شي.

نادري اوس د ليکلوخپل ميز ټولوي او پلان لري د افغانستان لپاره د خپلواکه او رني ټاکنو مرکز فيفا چې ده په کال ۲۰۰۵ کال بنسټ اينودلي دی له افغانستانه وباسي. نادري په دغه برخه کې هم څوک خوشحاله کولي نه شی. په ۲۰۱۴ کال کې بيا د ولسمشري ټاکنې ترسره کيږي. کرزي له دغي دفترڅخه په ۲۰۰۹ کال د ولسمشري د ټاکنو له بهير څخه ډيره بده خاطره لري . کله چې دغي دفتر د ټاکنو په درغليو کې مرسته وکړه.

پای


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ